سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۱/۰۳

# پام دی وی!

اسلام کی کرکه نشته، مسلمانه پام دی وي
هردین کی ظلم بد دی، نو انسانه پام دی وي

نفرت له هغه شی کوه، چی زیږي ترې نفرت
نفرت له مینې کبردی، جانانه پام دی وي

سـیـزل د کتـابـونو، دبنمنی د حقیقت ده
هـراورکی قرآن سوزی، طالب جانه پام دی وي

اوبه که جوش که یخی وی، اوبه دی نه دی اور
وژلي شی لمبی د اور، توفانه پاک دی وي

انسان مینې را وستئ، دی دنیا ته نه نفرت
په مینه پکښی ژوند کوی، شیطانه پام دی وي

له تاسره جګړه کی،لاهم مات او تسلیم نه دی
غره نه شی په سر ولاړ، آسمانه پام دی وي

که نه وی کلیوال، نو سلطنت کوی په چا؟
مُقام کلی در کړیدی، سلطانه پام دی وي

اکتوبر/۳۰/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

پام دی وی!
S_klewal_paam_de_wui.pdf